مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالخالق رشید
۲۰۲۳/۰۱/۲۶

# سپــین مـــــــــار

## لنډه کیسه

دانوزموږ دکورخبره وه چې تل به دمشرانونرواوښځو په خولوکې کشرانوته لکه د اوروژنې دموټر الارام ورترغوږ کیده :

-هلکانوپه دې کښتواوکروندوکې موپام وې چې کله سپین ماروینې چې لاس ورباندې پورته نه کړئ ... هوسپین مار ...

موږ هغه مهال واړه ماشومان وو، پردغه جمله موډیر سرنه خلاصیده، خو په ذهن اوضمیرکې موداسې ځغلیدلې وه، چې کله به موسپین چرګ ، سپینه غوا، سپن آس ولیدل نوبیابه دبابا اوانا خبرې په غوږوکې راته ګړنګ وهل :
سپین مارموکه داوړو په کندوکې هم پروت و چې څه ورته ونه وایاست ...

موږماشومان به چې سره کیناستواوپه دغه خبره به موتبصره اوماشومانه قضاوت سره کاوه نوتړلوبه دا فتوا ورکوله چې سپین مارڅوک نه چیچې، که هرچا ولید باید خپله لاره ترچپه کړې اوخپلې مخې ته یې پریږدې ...

موږماشومان وو،خوچې کله دالف اوبې شوو، جومات ته مومخه شوه، هلته مودملاصاحب چړیان لیدل چې سپین کالې به یې اغوستې وواوموږته به یې الف بې ت ، الف زره بې زربه راښودې نوفکربه موکاوه چې د دوی دغه کارهم له ثوابه خالي نه دی، دوی ته هم باید دسپین ماراونورو سپینوشیانوپه سترګه وکتل شي ...

خویومهال د دوی له هره شیبې لیدوچې په جومات اودروازه کې به ولاړوواو وظیفه به یې غوښته موږ ډیرستړي شوي وو، بیا به موچې د سپین مارنوم واورید نونیغ به ورسره سپین کالي چنړی سترګو ته راودرید چې پلاراوموربه یې له کوره څویوه ګوله ډوډۍ دوی ته بچت اوپاتې شي،ددغې دندې په نیت دلته اوهلته را استولی ول ...

دوی به موچې د دروازې په خوله په ګدایی اودجومات په کنج کې له اوږدو لښتوسره ولیدل، له دوی موهم ډارهم هغسې ولکه له سپین مارڅخه، دهغه بې ګناهی به رایاده شوه ځکه خو به زموږ زړه هم درد ورباندې وکاوه، زموږمیندې هم داسې وې، هغوی به هم په وچه ډوډۍ برسیره دکتخ اوغوړې ډوډۍ تا بیاورته کوله اوخدای وس څه به یې دڅادرپه څنډه کې ورواچول ...

موږ به په کال دوو کې کله کله دکلي په شاوخوا اویاهم په کروندوکې مارلیده چې سپین به نه ویا به مولارترې چپوله اویابه ورسره په جګړه شوو، خو ډیره تلوسه موتل سپین مارته وه، چې که هغه ووینواوڅه برکت یې زموږهم په برخه شي، خوسپین ماراود شب قدرشپه اوس زموږله پاره یوشان شوی ول ځکه چې سخته تلوسه به موورته وه خودیدن یې دښاپیریوپه شان یوازې په خولواوکیسوکې و بس ...

ښونځي ته ولاړم، هلته هم دسپین مارپه باره کې همدایوه خبره په هره خوله کې سره اوښته اورا اوښته ، چې کاشکې ویې وینو اودبرکت سیوری یې پرموږباندې راولویږي، خوماچې څومره هڅه وکړه یوڅوک په سلګونوکې داسې هم وموم چې سپین ماریې کله لیدلي وي خوبریالی نه شوم اونه مې دخپلې پوښتنې له پاره یوسم مثبت ځواب پیداکړ...ان چې یوه یوه ښونکي خوبه راته ویل چې سپین مارچا نه لیدلي اونه به یې تاسې ووینئ، درسونه وایاست وخت په نا نیولومرغانوپسې مه خرابوئ. کله موچې ولید هغه سات هغه مسالات ...

دانوبله خبره وه چې زموږ خیالي هیلې یې را ناهیلې کولې، خوربښتیاخبره همداوه چې کله موولید نوبیا هغه سات او هغه مسلات ...

شیراحمدخان معلم صاحب دې خدای جنتي کړي، له هغه به چې موږکله داپوښتنه وکړه ، راته په قهربه شو :



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

-سرونه مو مارچیچلي چي داډول پوښتني کوئ ، مارماردی سپین اوتورنه غواړي، کله موچي سرونه په لاس ورشی هغه صرفه نه کوي خپل ټس ترې وباسي... سپین مارچي ډیرنه لیدل کیږي اوټول یې دلیدوپه ارمان وي دا خپله خطرناکه نښه ده... ډیره خطرناکه... درسونه واياست درسونه ...
دخدای کارونه وو، پس له ډیروکالو زموږپه کلي چا سپین مارولید خویوازې په یوه توپیرچي پرمخ یې تورورخالونوهغه ډیربدرنګه ښوده ... بس نویوه هنګامه شوه هرچا دعاوې کولې چي کاشکي زموږ پرخوا یې ګذرراوشي... زموږ په کورکي ولیدل شي ... زموږ... اوزموږ ...
یوه میاشت نه وه تیره چي په کلي کي یوکوچني چرګوړي هم پاتي نه شو، هرورځ به له یوه اوبل کوره دا خبره اوریدل کیده چي نن دوه ، دری اوڅلورچرګوړي اوچرګان مړه شوي هرې خواته پراته دي ...
زموږ کلیوالو سپین ماربرکت باله خو دوی خبرنه ووچي له سپین مارسره یوتورکرغیړن مارهم جوړه زموږدکلي په اوږدو اولنډوکي جوړه جوړه سره ګرزي اویوې بلې خواته څمبیږي ...
جالبه خوداوه چي په همدغه مینه مینه کي چي موږ له سپین مارسره درلوده زموږپه کلي کي دوه ماشومان هم وچیچل اودهغوخبره تړډاکترانواوروغتونوپوري ورسیده. زموږ دکلي نجوني چي هسې یې هم له مارانو ذره چودیده هم دسپین مارله لاسه په کوروکي بندي شوې، اود دوی له ډاره دباندې نه شوې راوتلای ...
دکلي هرڅه په ټپه ودریدل، داسي غوا، داسي خره او وزه نه وه چي د دوی له ټسونوبه په امن سره پاتي وي... څوچي دکلیوالو په ربنتیاهم زړه ته ورسیده چي مار ماردی هغه سپین اوتورنه لري،موږهسې په رنګونوغولیدلي یو ...
سړی په رنګ نه سړی کیږي
سړی هغه دی چي بې خوی دسړي وینه
هم هغه دشیراحمدخان معلم صاحب خبره سمه وخته چي موږته به یې ویل :
... -کله موچي سرونه په لاس ورشی هغه صرفه نه کوي خپل ټس ترې وباسي ...
په یوه کال کي زموږ دکلي حالت بل ډول شو، ماران ورځ په ورځ نورهم زیاتیدل، دکلي هرکنج اوهرپخسه د دوی مارخانه شوه، داسي چي ان دورځې به هم په کلي کي مست وچټ ګرزیدل، هرڅوک اوهرشي به چي مخې ته ورغی خپل ټس یې ترې یوست... موږحیران چي څه وکړو، په هغه کال زموږ پرکلي باندې سخت سیلابونه راغلل، کورونه وران شول، چا ته څه ورپاتي نه شول، کورونه په بل مخ واوښتل، کلیوالونه داوسیدوله پاره ځای درلود اونه هم دخوراک له پاره غله دانه ...
خوپه مارانوهیڅ هم ونه شول ... هرڅه د دوی شول اوهرڅه په دوی شول :
که اور اوري که ښتي - د دوی تتی دي ډکې .
زموږ ټول کلیوال له کلي آواره شول، یوڅوکوره له کلي لرې لاهم پاتي وو، شیراحمدخان معلم صاحب هم په همدغوپاتي کلیوالوکي پاتي شوی و، خوهغه پخوانی خبرې یې اوس نه کولې، ده اوس دمارانوپه اړه یوازې یوغم وهلی فکرکاوه، کوم چا ربنتیا که درواغ ورته ویلي وو چي **په دوزخ کي داسي بلاوې هم شته چي هلته راښکیل دوزخیان هغه وګوري نوبیا لاس په دعا کیږي اوپه مارانو ښامارانو باندې شکروباسي ...**
**دی دغې خبرې ډیرهیرولی دی، توله ورځ په همدغه** فکراوسوچ کي ډوب وي، په ځان نه پوهیږي،یوازې کله کله یې یوناڅاپه،هغه هم له ځانه سره بې اختیاره ترخوله راووځي :
**که دازموږماران ښاماران شي ؟**

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ